# خبري خپرونه

## د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ کولو راپور: سریلانکا په سهیلي آسیا کې د سوداګریزو اصلاحاتو مخکښ دی او هندوستان سوداګرۍ ته چټکتیا وربخښي

**واشنګټن ډي سي (د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر لسمه):** سږ کال په سهیلي آسیا کې مقرراتي اصلاحاتو ادامه درلودلې ده. دا مطلب د «۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ راپور» څخه لاسته راغلی دی. دا راپور د هغه کلنیو راپورونو د سلسلې شپږم راپور دی چې نړیوال مالي شرکت او نړیوال بانك له خوا خپور شوی دی او پکښې د هغه اصلاحاتو یادونه شوې ده چې د سیمې په څلور هېوادونو یعنې په بنګله دېش، بوتان، هندوستان او سریلانکا کې پر سوداګرۍ د مقرراتي فشار د کمښت لامل شوي دي.

سریلانکا چې د مقرراتي اصلاحاتو په ډګر کې د سیمې مخکښ هېواد دی، د کریډټ (پورونو) لاسته راوړنه یې د پور ورکوونکو د قانوني حقونو د ملاتړ او د کریډټ اړونده معلوماتو د شتون د ښه والي له لارې آسانه کړې ده. بنګله دېش هغه وخت چې د ملکیتونو د ثبت لپاره پکار دی کابو نیم کړی دی او د تشبثاتو د پیل پروسه یې ساده کړې ده. بوتان د محکمو له لارې د قراردادونو تنفیذ آسانه کړی دی.

هندوستان د وارداتو او صادراتو د پروسو آسانتیاوو ته ادامه ورکړې ده. په هغه ځانګړي فرعي راپور کې چې د نوموړي هېواد د سوداګرۍ په هکله خپرېږي، به هغه وخت او لګښتونه ولیکل شي چې د هندوستان په ۱۶ ښارونو او ایالتونو کې د دولت د مقررو د سرته رسولو لپاره پکار دي. موخه یې داده چې ښارونه وهڅول شي ترڅو هغه بدلونونه رامنځ ته کړي چې په ملي او نړیواله کچه د هغوی د رقابت وړتیا ښه کړي او لازیات تشبثات را جلب کړي.

د روان کال په موده کې هیڅ اصلاحات د پاکستان په هېواد کې ندي ثبت شوي خو دولت یې د سوداګرۍ یوه مطالعه پیل کړې ترڅو په ۱۲ ښارونو کې سوداګریزې مقررې وڅېړي. موخه یې په سیمه اییزه کچه د ښو کړنلارو د شریکولو مساعدول او د دولت د بیلابیلو پوړونو تر منځ د همکارۍ هڅونه ده.

« د سهیلي آسیا هیوادونه په زیاتېدونکې کچې سره د سوداګرۍ د مساعدوونکو اصلاحاتو آجنډاګانو ته ژمن دي.» دا مطلب سابین هرټولډ ، چې ددې راپور د لیکونکو څخه دی، یاد کړه او زیاته یې کړه چې « همدارنګه دوی د نورو اقتصادي نظامونو څخه چې مقرراتي اصلاحات یې سرته رسولي او ښې سیمه اییزې کړنلارې یې د معیار په توګه پلي کړې دي، الهام اخلي.»

د سوداګرۍ د اجرا راپور اقتصادي سیستمونه د سوداګریزو مقررو د لسو شاخصونو له مخې په درجو ویشي چې په هغې کې د تشبثاتو د پیل او فعالیت، د سرحدونو څخه بهر سوداګرۍ، د مالیو د ورکړې او د تشبثاتو د ختمیدو په هکله د دولت د غوښتنو د سرته رسولو لپاره لازم وخت او لګښتونه ثبتیږي او څرك یې لګیږي. په دې درجو کې، ځینې ډګرونه لکه د لوی اقتصاد پالیسي، د بنسټیزه جوړښتونو کیفیت، د پیسو بې ثباتي، د پانګه اچوونکو انګېرنې او یا د جرمونو کچه په پام کې نه نیول کیږي.

د سیمو په منځ کې، ختیځه اروپا او مرکزي آسیا د پنځم پرله پسې کال لپاره د سوداګریزو اصلاحاتو په ډګر کې مخکښ دي چې ددې سیمو د ۹۰ سلمې څخه زیاتو هېوادونو پرمختګونه کړي دي. ختیځه آسیا او د پاسفیك سیمه ورپسې دي چې په دې ډله کې د چین هېواد د کرېډټ آسانتیاوو، د مالیو د ورکړې او قرار دادونو د تنفیذ د آسانتیاوو له کبله په لمړي مقام کې واقع دی. منځنی ختیځ او شمالي افریقا دواړه په دوهمه مرتبه کې واقع دي. هغه لس اقتصادي نظامونه چې د سوداګریزو اصلاحاتو له اړخه وړاندې دي، دادي: آذربائیجان، البانیا ، قرغزستان، بلاروس، سنګال، برکینا فاسو، بوټسوانا ، کولمبیا ، د ډومینیکا جمهوریت او مصر.

سنګاپور د دریم پرله پسې کال لپاره د سوداګریزو مقررو د عمومي آسانتیا په ډګر کې د نړۍ په کچه لمړی مقام لري چې ورپسې نوی زیلاند او په دریم مقام کې د امریکې متحده ایالتونه واقع دي.

« اقتصادي نظامونه داسې قواعدو ته اړتیا لري چې په آسانتیا سره د ګټې اخستلو وړ او ټولو ګټه اخستونکو ته د لاس رسي وړ وي. که نه نو تشبثات به په یوه بې نظمه او نا رسمي اقتصاد کې بند پاته شي چې په هغې کې بسپنو ته لاس رسی لږ او ټیټ شمېر کارکوونکي په کار ګمارل کیږي او کار کوونکي د کار د قانون د ملاتړ څخه برخمن نه وي.» دا مطلب مایکل کلین چې د مالي او خصوصي سکتور د پراختیا په ډګرونو کې د نړیوال بانك /نړیوالې مالي مؤسسې مرستیال دی یاد کړ او زیاته یې کړه چې « د سوداګرۍ د اجرا راپور د ښو اصولو د هڅونې لامل ګرځي او ښه اصول د واسطو او وسیلو په پرتله د سالمې سوداګرۍ لپاره یو ښه بنسټ جوړوي.»

د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ کولو راپور د نړی ۱۸۱ اقتصادی نظامونه د تجارت د آسانتیاوو په کچه سره پرتله کوی. هغه **۲۵** هېواده چې په عمومی توګه لوړ مقام لری، په ترتیب سره عبارت دي له: سنګاپور، نوی زیلاند ، د امریکی متحده ایالات ، هانګ کانګ (چین)، ډنمارك، لویه بریتانیا ، آیرلند ، کاناډا ، آسټرالیا ، ناروې، آیسلند ، جاپان، تایلنډ ، فنلنډ ، جورجیا ، سعودي عربستان، سویډن، بحرین، بلجیم، مالیزیا ، سویس، ایستونیا ، کوریا ، موریټیوس، او آلمان.

د سوداګرۍ د راپور پروژه په ټوله نړی کې د هغه تر ۶۷۰۰ څخه زیات سیمه اییزو کارپوهانو (یعنی سوداګریز مشاوران، حقوق پوهانو، محاسبینو، دولتی کارکوونکو او مهمو اکادمیکو کسانو) په هڅو سره لیکل کیږی چې په میتودیکه توګه ددې راپور په لیکنه کې مرسته کوی او بیایې ګوری. داټا، میتودلوژی او د ونډه اخستونکو نومونه په عامه توګه د لاندې انترنټی آدرس څخه لاس ته راتلای شی : www.doingbusiness.org

د ۲۰۰۹ کال د تجارت د کولو د راپور په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې توګه اړیکه ټینګه کړی:

**واشنګټن دی سی:**
ماریا الکساندرا هیناو
تیلیفون: 1 (202) 458-8789
ایمیل: mvelezhenao@ifc.org

ریبیکا اونګ
تیلیفون: 1 (202) 458-0434
ایمیل: rong@worldbank.org

**سهیلي آسیا:**
میناکشی سیت 1058-4111-11(91)
ایمیل: mseth@ifc.org

## په سهیلي آسیا کې د اصلاحاتو لنډیز

**په افغانستان** کې، عمده اصلاحات ندي ثبت شوي.
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: یو سلو دوه شپېتم

**بنګله دېش** د ښاروالیو د ملکیتونو د ثبت په دفترونو کې د اصلاحاتو په پلي کولو سره هغه وخت چې د ملکیتونو د ثبت لپاره پکار وو نیمایي کچې یعنی د **۴۲۵** ورځو څخه **۲۴۵**ورځو ته راټیټ کړ. همدارنګه د تشبثاتو د فعالیت پیل هوسا شوی دی. بنګله دېش د شرکتونو د ثبت لپاره د حقوقپوهانو ونډه اخستنه اختیاري ګرځولې ده. دا کار ددې لامل شو چې یوه پروسه ختمه شي او لګښتونه د سلو ډالرو په اندازه لږ شي.
**د اصلاحاتو ډګرونه**: د تشبثاتو د فعالیت پیل او د ملکیتونو ثبت
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: یو سلو لسم

**بوتان** د ځمکو د کمسیون په جوړولو سره چې موخه یې د ملکیتونو د لېږدولو د اړونده قضیو حلونه ده، د قرار دادونو (تړونونو) تنفیذ آسانه کړ. له هغه ځایه چې زیات شمېر د مځکو قضیې به محکمو ته راجع کېدې نو ددې نوي کمسیون په جوړېدو سره د ټولو قضیو په سلو کې دېرش اوس د ولسوالۍ (لمړنیو) محکمو ته نه راجع کیږي. په پایله کې هغه ټول وخت چې د محکمو له لارې د قرار دادونو د تنفیذ لپاره پکار دی د **۲۷۵** ورځو څخه **۲۲۵** ورځو ته را ټیټ شو.
**د اصلاحاتو ډګر**: د قرار دادونو تنفیذ
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: یو سلو څلور ویشتم

**هندوستان** د اطلاعاتو د الکترونیکي راکړې ورکړې سیستم پلي کړ چې د هغې په واسطه د توکو صادروونکي کولای شي سندونه د انټرنت له لارې ګمرکونو ته وړاندې کړي. دا سیستم همدا راز ګمرکونه ددې جوګه ګرځوي چې د صادراتو سندونه په اتوماته توګه وڅېړي او ګمرکي تصفیه نوره هم اغېزمنه شي. دا نوی سیستم هغه وخت چې د صادراتو لپاره پکار وو، د یوې ورځې په اندازه کموي.
**د اصلاحاتو ډګر**: د سرحدونو څخه بهر سوداګري
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: یو سلو دوه ویشتم

**په مالدیف** کې، عمده اصلاحات ندي ثبت شوي.
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: نهه شپېتم

**په نیپال** کې، عمده اصلاحات ندي ثبت شوي.
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: یو سلو یو ویشتم

**په پاکستان** کې، عمده اصلاحات ندي ثبت شوي.
**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: اوه اویایم

سریلانکا چې د سیمه ایيزو اصلاحاتو مخکښ دی، د شرکتونو د نوي قانون په تنفیذ سره يې د پور ورکوونکو قانوني حقونه پیاوړي کړل. کله چې يو شرکت تصفیه شي نو د تضمین لرونکو پور ورکوونکو کسانو طلبات به نه کنګل کېږي او نوموړي کسان اوس د تصفیې پر مهال حق لري ترڅو رهن شوي توکي (تضمین) په خپل لاس کې واخلي او یا يې د محکمې له لارې ترلاسه کړي او یا دا چې د تصفیې مدیر وټاکي. همدارنګه د سریلانکا هېواد انټرنټ ته د کریډټ د معلوماتو د آنلاین لېږد سیستم پلي کړ. اوس د کریدت د معلوماتو بیرو کولای شي د ټولو هغه پورونو اړوند معلومات را غونډ کړي چې د هغې غړو ورکړي دي. هغه ټیټ حد چې د پورونو د ثبت لپاره ټاکل شوی وو اوس له منځه تللی دی او اطلاعات د اوږدې مودې لپاره ساتل کېدای شي.

**د اصلاحاتو ډګر**: کرېډټ لاسته راوړل

**د ۲۰۰۹ کال د سوداګرۍ د راپور پر بنسټ درجه**: یو سلو و دوهم